د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

لوړو زده کړو وزارت

کندهار پوهنتون

ښووني او روزني پوهنځی

پښتو څانګه

په بې علمۍ او ناپوهۍ د پاچهۍ خوبونه نور له سره وباسئ !!

# پوهنیز سیستم په لوی کندهار کي

Ketabton.com

لارښود استاد : څېړندوی شېر شاه رشاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانګړني :

موضوع: پوهنيز سيستم په لوی کندهار کي

څېړونکي: بېلا بېل محصلين

لارښود استاد : څېړندوی شېر شاه رشاد

انلاين چاري: مختار احمد احسان – د لراوبر ويبپاڼي برېښنايي کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



خېړنغونډه ۱۳۹۲ ل. کل د غويي ۱۷
د پښتو ژبې او ادبياتو څانګه - کندهار پوهنتون

د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو ژبې او ادبياتو د څانګې د درېيمې ټولګۍ په دوهم سمستر کې یو مضمون د څېړنې په نامه په کاریکولم کې سته. ددې مضمون په لومړۍ ورځو کې د څېړنې اساسات توضیح او تشریح سول. د تطبیقي څېړنې له پاره "پوهنيز سیسستم په لوی کندهار کې" موضوع ددې ټولګۍ دوې میاشتنی کار محصلینو ته وسپارل سو .




ددې ټولګۍ ګرده محصلین ۹۱ کسه دي، نهه، نهه کسه پر لسو ډلو ووېشل سول او دهري ډلي له پاره د څېړنې د موضوع یوه، یوه برخه وويشه سوه ، لس برخې په لاندې توګه وې:

۱ -په ښوونځیو او مدرسو کې روزنيز اړخ
۲ -د ټولنې اغېزې پر اوسنې پوهنيز سیستم باندې
۳ -د پلرونو او میندو له خوا ښوونځیو ته د اولادونو د نه لېږلو سببونه
۴ -پخوانی مروج او اوسنی پوهنيز سیستم
۵ -د ښوونځي ، مدرسې او خصوصي ښوونځي توپیرونه
۶ -نوی نصاب او د ښوونکو سویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ -نوي تکنالوژي په پوهنیز سیستم کي
۸ -د ښځو د تعلیم دکچي د کښته والي علتونه
۹ -په لوی کندهار کي د ۱۲ فارغین، په کانکور کي شمولیت او د آزمویني نتایج
۱۰ -د ښوونځیو د ځولو علل

ددې څېړني له پاره ۸۴۳ مرکې سوي دي، ۸۲۴ پوښتنلیکونه راټول سوي دي، د ۱۳۰ عامو خلکو نظر غوښتل سو دئ ، ۳۷ ښوونځي، ۱۲۵ ښوونکي، ۱۸۵ زده کوونکي د څېړني منابع دي، د څېړني میتود په لویه کچه مرکه او پوښتنلیک دئ.

د څېړني اقتصادي لګښت خپله محصلینو پرغاړه اخیستی وو. د څېړني پایلي د ۱۳۹۲کال د غویي په ۱۷ ورځ په کندهار پوهنتون کي د یوې څېړنغونډي په بڼه و ګډونوالو ته وړاندي سوې، له بده مرغه چي د پوهني وزارت او ریاست کوم استازي پکښې برخه اخیستې نه وه .
د څېړني پایله ښیي چي پوهنیز بهیر په لوی کندهار کي د خلکو د رضایت او قناعت وړنه دئ او د خلکو له اړتیاوو سره متناسب نه دئ .
د څېړني پایلي په جزئیاتو په لاندي ډول دي:

## ۱ -موضوع: په ښوونځیو او مدرسو کي روزنیز اړخ

ددې موضوع په اړه له یوه روزونکي اولسو ښوونکو سره په څلورو ښوونځیو کي مرکې سوي دي. په کندهار ولایت کي ۴۲۴ ښوونځي رسمي ثبت دي، خوشاوخا درې پر څلور (□(۳/۴ ) ) ئې فعال دي، ۲۰ رسمي د یني مدرسې دي، ۱۳ رسمي خصوصي ښوونځي دي،رسمي اسناد ښیي چي شاوخوا دوه لکه زده کوونکي په زده کړه بوخت دي. اوس دکندهار ښار د نجونو په لسو ښوونځیو او د هلکانو په شلو ښوونځیو کي روزنیز ښوونکي مقرر دي. په ښوونځیو او مدرسو کي د ښې روزني او دبد اخلاقیو ، پردي کلتور او ناوړه فلمونو د لیدني دمخنیوی به پاره تبلغ کوي، خو په مدرسو کي دا روزنیز سیستم بریالی غوندي دئ چي د دوئ له تجربو څخه په ښوونځیو کي هم باید کار واخیستل سي. خو په مدرسو کي یوه نیمګړتیا داده چي په ټولو مدرسو کي یو نصاب نسته او عصري علوم نه لوستل کېږي .

## ۲ -موضوع: د ټولني اغېزې پر اوسني پوهنیز سیستم باندي

ددې موضوع په څېړنه کي له ۲۰۰ کسانو سره مرکه سوې ده، لاندي پوښتني مطرح سوي دي:
الف: دپوهني په اړه ستاسي نظر او خپل اولادونه آیا ښوونځي ته لیږئ؟
۷۲ په سل کي پوهنه د ټولني په ګټه بولي او خپل اولادونه ښوونځي ته لیږي .
۲۸ په سل کي خپل اولادونه ښوونځي ته نه لیږي، چي په هغو کي بیا د ۸۳ په سل کي د نه لیږلو سبب اقتصادي موضوع ده .
ب: د اولادونو دزده کړي په اړه د ښوونځیو یا مدرسو له اداري سره وینئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳ په سل کي، هو
۸۷ په سل کي، يا

ج: د پوهني اغېزي پرټولنه څه دي؟
دکتابونونو، مجلو، اخبارونو او نورو چاپي رسنيو ډېرېدل
د پوهي عامېدل
له دباندي نړۍ سره ډېر اړېکی

### ۳ -موضوع: دپلرونو او ميندو له خوا ښوونځيو ته د اولادونو د نه لېږلو سببونه

ددغي موضوع په اړه ۳۲ د نظر خاوندان، ۳۸ د ښوونځيو ښوونکي، ۱۳۰ عام وګړي او ۹۰ زده کوونکي پوښتل سوي دي .

۴۹ په سل کي ناامني لوی سبب بولي
۲۹ په سل کي اقتصادي عامل
۱۲ په سل کي د زده کړي ناسم تعبير
۲ په سل کي د ټولني دوديز شرايط

### ٤ -موضوع: پخوانی مروج او اوسنی پوهنيز سيستم

دا موضوع په ۱۸ ښوونځيو کي له ۲۸ ښوونکو څخه پوښتل سوې ده .

الف: د پخواني مروج سيستم ښېګني:
د زده کوونکو نظم او ډسپلين
په لوړو ټولګيو کي پرټولنيزو او طبعيو علومو وېش
د يوه او پرله پسي نصاب لرل
د ښو او تکړه ښوونکو روزل



(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: د پخواني مروج سیستم نیمګړتیاوي:
زده کړه انفرادي وه
دزده کوونکو جرئت لږ و
د زده کړي درسي مواد محدودول او نور مرستندویه مواد نه ول
۸۰ په سل کي ښوونکی د درس محور و
ج: د اوسني پوهنیز سیستم ښېګڼي:
د ښوونکو او زده کوونکو ګډه زده کړه (لاتر اوسه په ټولو ښوونځیو کي مروجه نه ده(
د ښوونکو له خوا انځوریزه ښوونه (لاتر اوسه په ټولو ښوونځیو کي مروجه نه ده(
د ښوونکو تدریسي مفردات او پلان
په نویو کتابونو کي ښه صحافت
د: د اوسني پوهنیز سیستم نیمګړتیاوي:
لایحې راوزي، خو نه عملي کېږي.
د تدریسي نصاب ژر بدلون او له نصاب سره سم د ښوونکو نه روزل
د لومړیو ټولګیو له پاره ډېر مضامین
د زده کوونکو د خوښي څانګه (ټولنیز او طبیعي ) نه ټاکل
ښوونکو ته له مسلک سره سم د مضامینو نه ورکول

## ۵ -موضوع : د ښوونځي، مدرسې او خصوصي ښوونځي توپیرونه

په دې موضوع کي ۳۴ ښوونکي، ۴۲ زده کوونکي او ۷ کسه اداري مسولین پوښتل سوي دي .

لومړی - د نصاب مسئله :

د رسمي لېسو او خصوصي ښوونځیو نصاب تر ډېري اندازې هماغه دولتي نصاب دئ چي د مرکزي دولت له خوا ټاکل سوی دئ. خو د تدریس او درسي میتود په باب د ښوونکو خپل سلیقوي برخورد معموله خبره ده. په دې باب د یادوني وړ خبره دا ده چي په دیني برخه کي زموږ مدرسي کوم مشخص درسي نصاب نه لري.

دوهم - د تعلیمي سویې مسئله:

د تعلیمي سویې څخه زموږ مراد دا دئ چي د کوم ښوونځي زیاتو شاګردانو لوړو زده کړو ته لاره موندلې ده، موږ له خپلي دې څېړني څخه دا نتیجه تر لاسه کړه چي د ځینو رسمي لېسو زیاتو شاګردانو لوړو زده کړو ته لاره موندلې ده. خو د خصوصي لېسو او مدارسو شاګردان ببخي پر هیڅ حساب دي.

دریم - د چاپېریال مسئله:

له چاپېریال څخه زموږ مقصد د مکاتبو او مدارسو هغه برخي دي چي زده کوونکي د تفریح پر مهال د هوا تبدیلۍ له پاره ورته راوزي. په دغو ساحو کي باید د زرغونوالی پوره مراعت سوی وي. د دې په څنګ کي د سپورټي میدانونو او نورو آسانتیاوو لرل هم د ښه چاپېریال نمایندګي کوي. زموږ له څېړني څخه معلومېږي چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلو کي پنځه رسمي لېسې له دغو ښېګڼو څخه برخمني دي. شخصي مکتبونه اکثره په شخصي کورونو کي جوړ سوي دي، چي طبيعې خبره ده پورته ښېګڼې نه لري. مدرسې او د ديني زده کړو اکثره مرکزونه هم د شخصي مکاتبو په برخليک اخته دي.





څلرم– د علمي تجاربو او لابراتوارو نېستي:

په دغه اړه رسمي لېسې او شخصي مکاتب پوره توپير لري. که څه هم په ځينو لېسو کي د لابراتوار په نوم خاصي خوني موجودي دي، خو ډېره لږه استفاده ورڅخه کېږي. خو په شخصي مکاتبو کي د لابراتوار او تجربو يادول يوه افسانه ښکاري. دا پېښه ښيي چي د ښار له ټولو زده کوونکو څخه په سلو کي تقريباً ۱۰ فيصده زده کوونکي له لابراتورونو او علمي تجاربو څخه برخمن دي، دا چي هغوی به له دې لاري کوم مهارتونه تر لاسه کړي او زده کړي وي بېل بحث غواړي.

پنځم– د کتابتونو نه موجوديت:

په مکاتبو او مدارسو کي د لويو کتابخانو موجوديت د زده کوونکو له پاره ډېر اړين کار دئ. زده کوونکي کولای سي چي د خپلو درسي موادو پر څنګ د کتابخانې له بېلابېلو کتابونو څخه د ممدو کتابو په ډول استفاده وکړي. اوس مهال په کندهار ښار کي خورا لږ داسي لېسې سته چي کتابتونونه ولري، کومي لېسې چي کتابخانې لري، تر اوسه ئې زده کوونکي په دې نه پوهېږي چي څه ډول بايد د کتابخانو له کتابونو څخه استفاده وکړي. زموږ د څېړني پر بنسټ په مدارسو او شخصي مکاتبو کي کوم داسي کتابتون چي په يادولو وارزي وجود نه لري.

شپږم– د استادانو له پاره د ورکشاپونو جوړول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې څېړني نتايج ښيي چې: د مکاتبو د استادانو له پاره په بېلابېلو وختونو کي علمي او تعليمي ورکشاپونه جوړ سوي دي، خو له دغي ښېګڼې څخه د مدارسو استادان محروم دي.

اووم–د معلمينو او استادانو مسئله:

د رسمي ښوونځيو په سلو کي ۸ معلمين ليسانس دي، پاته ښوونکي د دولسم ټولګي فارغين دي. د مدارسو اکثريت ښوونکي د دوولسم زده کړي لري، ډېر لږ ئې په ديني او مذهبي پوهنو کي لاسرسی لري. په داسي حال کي چي د مدارسو استادان بايد سل په سلو کي له ديني او مذهبي اموراتو څخه آګاه وي .

عيني مشاهدات:

په ځينو رسمي مکاتبو کي په مشخص ډول ښځينه ښوونځيو کي داسي معلمين درس ورکوي چي پښتو ئې دوهمه ژبه ده او يا بالکل په پوهېږي نه. کله چي زده کوونکی د يو څه په اړه پوښتنه وکړي معلم صاحب وايي چي زه په پښتو نه پوهېږم.

په ځينو ښځينه مکاتبو کي په لوی لاس زموږ سيميز رواجونه او بازی له منځه وړل کېږي او پر ځای ئې د نورو هيوادونو کلتوري او فرهنګي مناسباتو ته ځای ورکول کېږي. په دې ښوونځيو کي د پردي کلتور مخنيوی خو پرېږده د بل د کلتور او ژبي له پاره کارکېږي.

## ۶ -موضوع: نوی نصاب او د ښوونکو سويه

دا موضوع په ۱۲ ليسو کي له ۳۰ ښوونکو او ۴۵ زده کوونکو سره څېړل سوې ده

پخواني ښوونکي په خپلو مضامينو کي ډېر تکړه دي.

له ۱۲ څخه فارغ مقرر سوي ښوونکي پوره تجربه او پوهه نه لري .

ليسانس ښوونکي لږ دي .

د نوي نصاب په اړه ورکشاپونه او ټريننګونه لږ دي.

د نوي نصاب په درسي کتابونو کي ډېري تيروتني سته، چي کله کله نوي ښوونکي هم نه په پوهېږي او په هغسي تيروتلي بڼه ئې ورښيي .

د تدريسي نصاب ژر بدلون يوه لويه فاجعه ده

## ۷ -موضوع: نوې تکنالوژي په پوهنيز سيستم کي

ددې موضوع په اړه ۵۵۰ مرکې سوي او ۸۰۰ پوښتنليکونه ويشل سوي دي، له دې ټولو څخه ۷۰ په سل کي د ښوونځيو او پوهنتونو زده کوونکي، ۱۵ په سل کي ښوونکي، ۲ په سل کي حکومتي کارکوونکي، ۹ په سل کي د نېټ کيفې د انټرنېټ کاروونکي دي. د پوښتنليکو او مرکو پايله ښيي، چي په نوي تکنالوژي کي موبايل تر ټولو ډېر کارېږي، ترهغه وروسته کمپيوټر، انټرنېټ، تلويزيون او پروجيکټور دي .

د موبايل کارونه:

۷۰ په سل کي د خبرو له پاره

۱۵ په سل کي د فلمونو او ګيمونو له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵** په سل کي د خبرونو او درسونو له پاره
د کمپيوټر کارَوَنه:
**۷۵** په سل کي کمپيوټر ئې زده دئ
په هغو کي **۳۵** په سل کي خپل کمپيوټر لري
په هغو کي ۳۰ په سل کي خپل کمپيوټر نه لري، خو نېټ کيفي ته لاسرسی لري
په هغو کي **۳۵** په سل کي نه خپل کمپيوټر لري او نه هم نېټ کيفي ته لاسرسی.
د انټرنېټ کارَوَنه:
**۲۵** په سل کي کسانو نېټ زده دئ
په هغو کي ۱۸ په سل کي د ښوونځيو ښوونکي، د لوړو ټولګيو زده کوونکي او محصلين دي .
په هغو کي ۷ په سل کي دولتي کارکوونکي او شخصي کسان دي .
په هغو کي ۳۰ په سل کي خپل يا دولتی نېټ کاروي .
په هغو کي ۷۰ په سل کي نېټ کيفي ته ځي .
د تلويزيون او پروجيکټور کارَوَنه:
۱۰ په سل کي ښوونځي ئې لري
۹۰ په سل کي ښوونځي ئې نه پېژني .

## ۸ -موضوع: د ښځود تعليم د کچي د کښته والي علتونه

ددې موضوع په اړه په پينځو ليسو او يو منځني ښوونځي کي له ۲۰ ښوونکو او **۱۵** زده کوونکو سره مرکې سوي دي. ددې مرکو پايله لاندي علتونه رابښيي:
د ليک او لوست کښته کچه
د پوهني په ګټو نه پوهېدل
د رسنيو له لاري د عامه پوهاوي نستون
په کښته ټولګيو کي د هلکانو او نجونو ګډې زده کړي
د نجونو دزده کړي له پاره د ښو شرايطو نه موجوديت
په کوڅه او بازار کي د نجونو ځورونه
د ښځينه ښوونکو نه بسنه (عدم کفايت)

## ۹ -موضوع: په لوی کندهار کي د ۱۲ فارغين، په کانکور کي شموليت او د هغو برياليتوب

دا موضوع د رسمي شمېرو په راټولولو او د لوی کندهار او د هېواد له نورو سيمو سره دهغو د پرتلني پر ميتود ولاړه څېړنه ده.
رسمي شمېرې ښيي، چي په ۱۳۹۱ ل کال کي (۲۳۵۰۰۰ ) کسه له ۱۲ څخه فارغ دي، په هغو کي (۱۹۷۰۰۰) فارغينو په کانکور آزموينه کي نوم ليکنه کړې ده او يوازي (۱۷۲۰۰۰ ) کسو په دې آزموينه کي ګډون کړئ دئ، چي په هغو کي (۴۹۰۰۰ ) ځوانان بريالي سوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوی کندهار د ګڼ مېشتو څلورو ولايتونو (کندهار، هلمند، زابل او روزګان) د ۱۲ فارغين په ۱۳۹۱ل. کال کي يوازي (۴۳۲۰) کسه دي، چي د ټول هيواد ۲ په سل کي هم نه جوړوي. او که له ځينو پخوانيو نوم ورکو او لسواليو سره چي اوس په مصلحتي سياست کي و ولايت ته لوړ سوي دي، پرتله سي، د دې پښتني څلورو ولايتو ټول فارغين د هغې نوم ورکي اولسوالۍ په سر نه دي. د پخوانۍ اولسوالۍ او اوسني ولايت دايکنډي د ۱۲ فارغين په ۱۳۹۱ل. کال کي (۵۴۷۵) کسه دي او د غزني د خواجه عمر د هزاره ورونو د اولسوالي فارغين هم په يوازي سر نژدې پينځه زرو ته رسېږي .




که د هيواد راتلونکي ته نظر واچوو، بالغ او عاقل انسانان خو پرېږده، حتی يو کوچينی هم په دې پوهېږي چي د هېواد ګرده چاري په هغه چا پورې اړه لري، کوم چي تعليم او تحصيل ئې کړی وي. په بې علمۍ او ناپوهۍ د پاچهۍ خوبونه نور له سره وباسئ !

په دې لړ کي يوه بله ملي او حياتي مسئله چي د تودو سيمو (ګرم سېرو) ولايتونه ورسره مخامخ دي، هغه د ۱۲ د فراغت مهال، د کانکور د آزمويني ورکړه، او بېرته که د تودو سيمو پوهنتون ته دا فارغ ځوان بريالی سو، دَی د خپل ژوند د ډېر ګران او مهم پړاو پينځلس مياشتي له لاسه ورکوي، په داسي حال کي چي د سړو سيمو ځوان فارغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لیندۍ میشات کي فارغ کېږي، په مرغومي کي د کانکور آزموینه ورکوي او په کب یا وري کي پوهنتون پیلوی. د ژوند یوازي درې میاشتي ئې انتظار ویوست .

که دوخت په اهمیت پوه خلک و اوسو او څه ارزښت راته ولري زموږ د دې کال (۱۳۹۱) فارغین د کندهار (۲۰۱۹کسه) او د لوی کندهار د ابیا (۴۳۲۰کسه) دي او هریوه ئې د ژوند **۱۵** میاشتي له لاسه ورکړي دي .
که موږ د تودو سیمو ولایات (له فراه څخه نیولې تر ننګرهاره پوري) یو لږ څه په خپله ګټه او تاوان، خیر او شر پوه و اوسو ، موږ یوازي په کندهار کي د خپل ځوان قشر د یوې دورې (۱۵x۲۰۱۹=۳۰۲۸۵ (د ېرش زره دوه سوه پینځه اتیا میاشتي چي (۲۵۲۳) کاله کېږي، لولپه کړل او د یوې خاشي غوندي باک موهم نه په کېږي .

د کانکور ځنډېده نه یوازي د ځوانانو د وخت ضایع ده، بلکي ډېر ځوانان له لوړو زده کړو څخه زړه توري کوي.

که تاسي ددې پیړۍ (سدۍ) د ټولو فارغینو محاسبه وکړئ، چي موږ ثونه ضایعات ورکړي دي، خدای مه که، ګرده به لیوني سوو .
خوشال خان خورا ښه ویلي دي:

چي ئې علم و فضل نه وي، چي پر تخت د بادشاه کښیني
یا یو ایږ دئ، یا لیوه دئ یا ئې ګاو و خر شماره

## ۱۰ -موضوع : د ښوونځیو د سوځولو علل

ددې اهمي موضوع له پاره له سلو قومي مشرانو ، عامو خلګو ، ښوونکو او د پوهني له اړوند مسولینو سره مرکې سوي او پوښتنلیکونه ورکړه سوي دي. ددې پرځنګ د کندهار راډیو تلویزیون له آرشیف او ویبسایټونو څخه پخواني مواد او اسناد هم راټول سوي دي .
ثېړنه او اسناد ښیي چي له هراته تر چتراله پوري خپلي لمني ته خپله بلا اخیستي یوو. ددې ثېړني پایله د ښوونځیو په سوځولو کي دا لاندي سلني راښیي:
۱۳ په سل کي: - وسله وال طالبان
۳۲ په سل کي: - سیاسي ډلي او تنظیمونه
۵۱ په سل کي: - دباندی سیاست زموږ په خپل لاس
د لسو سره موضوعاتو ثېړنه ښیي چي:
که موږ خپله ددې سیمي اولس او خلګ د پیل په غوږ کي ېېده و اوسو ، نور به موهم خوب درووند او ژوند به مو تر وړۍ سپک وي .

کندهار پوهنتون
څېړندوی شېرشاه رشاد
د ۱۳۹۲ل. کل د غویي ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنايي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو** !

تاسو کولای سئ د لراوبر ویبپاڼي په برېښنايي کتابتون کي زيات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفریحي وخت کي مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاین کتابتون ستاسو لپاره د لاندینیو موضوعگانو اړوند آثار پر لیکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساینس او تخنیک**
- **سپورټ او روغتیا**
- **تاریخ او سیاست**
- **هنر او ادبیات**
- **دماشومانو لپاره**
- **بیلابېل آثار**




**www.Larawbar.net/library**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**